نویده خوشبو

۲۰۱۷/۱۰/۱۱

د خفګان د مخنیوي کوچنۍ نسخه!

سهار وختي په بیره له کوره ووتلم:
د آسمان زړه له بیګاه نه ډک دی ،وني نڅیږي یخ باد لګیږي نن د لمر تودوخی نشته!
ټاکلي ځای ته مې ځان ورساوه، له اوږده ځنډ وروسته مې وار راغی، رسمیات یې بشپړ کړل او نوم لیکنه مې وشوه
وږي وم، هیڅ وس مې نه و چې کور ته له رسېدو وروسته خواړه تیار کړم او په ګډه یې وخورو، د ماشومتوب خوږي ورځې مې یادې شوې: هغه بې غمي، بې مسوولیتي، هغه نازولتوب او نخرې!
له ښوونځي چې به کور ته تلو، څه په نازونو او اکټونو به تیار دسترخوان ته کېښناستو، خورم او دا نه خورم به مو کاوه
عجیبه شان عادت لرم، په ولړه کې مې ټول وجود ریږدي چورت مې وهو څه تیار کړم چې لږ وخت ونیسي، د ودرېدو او پخلي هیڅ توان مې نه و....
له نیم ساعت ډیره پلی لار مې اخر کړه او کور ته ورسېدم د ور په خلاصولو سره مې د ګرمې ډوډي بوي تر پوزې شو، ورسره ګډ د خوندور خوړو بوی وارخطا کړم!
پخلنځي ته مې سر ورښکاره کو، کوټې ته شوم، واه!
تیار دسترخوان،ګرم چای ډوډی، هګۍ او رومي، ورسره ګډ شنه مرچ او په سر یې پاشېدلي تور مرچ،مممم...
د خوند پوښتنه یې مه کړئ!
اوس منم چې د نارینو د لاس پخلی ډیر خوندور وي!
خدای خبر بسم الله مې کړه او کنه؛ مړي مې پورته کړي!
د ژوند ملګری مې معمولاً پخلی نه کوي؛ تمه مې نه لره چې وخته له خوبه پاڅي؛او چای تیار کړي.
توقع نه لرل، حیرانتیا او نوی والی بخښي فطرتاً انسان د ژوند په هره برخه کې ډیر توقعات لري، له کورنی، دوستانو، د ژوند له ملګري، له نړۍ له ژوندانه....
اکثراً موخې ته د رسېدو لپاره د هیلو او توقعاتو تر منځ توپیر نه کیږي، همدا ده چې ډیر ارزښتونه، قدرونه او بریالیتوبونه د ډیرو توقعاتو ښکار ګرځي په ټولنیز ژوند کې له وګړو ډیر توقعات، اړیکې بې خونده کوي، همکار مې ولې زما د دې ښېګڼې په مقابل کې داسې ونه کړل؟ خاوند/میرمن مې ولې داسې وکړ، خپل داسې وویل، آشنا هغسې وکړل او.....
د ډیرو توقعاتو لرل، ځان پخپله ټپي کول دي؛ ژوند په بشپړه توګه هغه مهال ګټل کیږي چې توقعات نه وي او دتمو مخنیوی وشي، هر څومره چې ډیري تمې ولرو؛ په هماغه انداز به ډیري ستونزې ولرو
که ښېګڼه، د ښېګڼو او درناوی د درناوي تر لاسه کولو لپاره کوو یوازې د وخت ضایعه کول او د زړه ژوبلول دي
ویلیم شیکسپیر وایي: «توقع د زړه درد، رېښه ده، هغه وړاندې وایي زما د همېشنی خوښي لامل دا دی چې زه له هیڅ چا، هیڅ تمه نلرم»
د ژوند په مختلفو حالاتو کې له نورو ګېلې کوو، نهیلي کوو او نور ملامتوو؛ حقیقت کې ګرم په خپله یو مونږ، بې ځایه او ډیرو توقعاتو نهیلي کړي یو؛ نورو کسانو نه!
هوساینه هغه مهال پیلیږي؛ کله چې تمې ختمیږي
هندي روحاني مشر، لیکوال،شاعر او طبیب سري چون موي چې په روحاني او طبي نوښتونو کې نړیوال شهرت لري وایي:
د انسان روح ، زړه او ماغزه هغه مهال ارامیږي؛ کله چې تمې پرې شي، کله چې تمې نه وي، خفګانونه او غمونه نشته، کله چې غمونه نه وي ستونزې نشته، او کله چې ستونزې نه وي جنګونه نشته!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بې ځایه تمې جرم ، او ناامیدي یې سزا ده د ټولو رواني ناروغیو، ناکامیو او خفګانونو زېږندنه بې ځای تمې دي
ځکه هغه څه چې مونږ یې تمه لرو؛ اکثراً له حقیقت نه لیرې وي د بېلګې په توګه:
که د ژوند ملګري د ژمي په ورځو کې د باندې چکر ته ولاړ شي، ناڅاپي باران او ساړه شي، میرمن په مینه و وایي: ساړه مې کیږي او تمه ولري چې د ژوند ملګری یې باید خپله کورتې هغې ته ورکړي، خو په حقیقت کې یې د میړه ځواب دا وي:
ژمی دی ښه پوهیږي چې ساړه او باران کیږي ځان سره به دې کورتې راوړې وای!
میرمن به حتماً خفه شي او له همدې کوچنۍ تمې ستونزې، خفګانونه او نا امیدۍ پیدا کیږي.
نو!
هیلې ولرئ خو تمې نه، له توقعاتو پرته د ژوند رنګونو، خوښیو او جالبیت ته چانس ورکړئ.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ